# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**30سرطان_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو لپاره د چین لخوا مرسته شوي توکي د تورخم مسولینو ته وسپارل شول---------- 1

ننگرهار: د مهاجرینو چارو وزیر د سرخرود ولسوالی له طوفان ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه ---------- 1

وزیر امور مهاجرین با آمر مهاجرین ولایت کاپیسا دیدار کرد---------- 2

برای مجروحین ناشی از حوادث طبیعی اخیر درکمپ عمری تورخم ننگرهارکمک نقدی توزیع شد ---------- 3

خسارات ناشی از حوادث طبیعی اخیر در کمپ عمری تورخم ولایت ننگرهار مشخص و برای زخمیان آن کمک نقدی توزیع شد 4

تر دوو زرو زیات مهاجرین له پاکستان او ایران څخه راستانه شول ---------- 5

معاون اتشه مهاجرین مقیم اسلام آباد با شماری از نماینده های مهاجرین مقیم پاکستان دیدن کرد---------- 6

غزني کې لسګونو بې ځایه شویو او راستنو شویو ته د پوهاوي پروګرام جوړ شو---------- 6

ده ها خانواده در ولایت بلخ کمک نقدی دریافت نمودند---------- 7

برېتانوی کښتی د لومړي ځل لپاره له سمندر څخه ژغورل شوي کډوال د فرانسي یو بندر کې ښکته کړي ---------- 8

انګلیس کانال: د کالي په ساحلي اوبو کې یو بل کډوال مړ شوی ---------- 11

یونان: تېر یو کال کې د کډوالو ماشومانو شمېر څلور چنده زیات شوی دی ---------- 12

تاکید روسای جمهور فرانسه و بریتانیا بر تقویت همکاری در زمینه مهاجرت---------- 14

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو لپاره د چین لخوا مرسته شوي توکي د تورخم مسولینو ته وسپارل شول

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني له لورې د داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو مهاجرینو د بیا میشتولو لپاره د چین حکومت لخوا مرسته شوي اته عراده امبولانسونه، د اوبو ټانکرونه، پیکپ موټرې او یو شمېر خېمې د ننګرهار ولایت د مرستیال والي په شتون کې د تورخم اړوندو مسولینو ته وسپارل شول

په ورته مهال د مهاجرینو چارو سرپرست د تورخم اړوند عمري لنډمهاله کمپ، د مهاجرینو چارو له آمریت او همدا راز هلته د موجودو همکارو موسساتو له مختلفو شعبو څخه هم لیدنه وکړه

ښاغلي حقاني په دغه لیدنه کې د کاري کمېټو چارې وارزولې، ددوی ستونزې او وړاندیزونه یې له نږدې واورېدل او د کارونو د روڼتیا او چټکتیا لپاره یې لازمې سپارښتنې ورته وکړې

د یادونې وړ ده، چې په ننګرهار کې د وروستي طوفان له امله عمري کمپ هم ډېر زیان لیدلی، چې د بیا اساسي جوړولو لپاره یې د مهاجرینو چارو وزیر هوډ څرګند کړ

## ننګرهار: د مهاجرینو چارو وزیر د سرخرود ولسوالۍ له طوفان ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني، چې د ننګرهار ولایت مرستیال او د وزارت یوشمېر رئیسانو
یې ملتیا کوله د ننګرهار ولایت، سرخرود ولسوالۍ اړوند د طوفان له امله زیانمنو سیمو څخه لیدنه وکړه
د مهاجرینو چارو وزیر د سیمې خلکو سره په ناسته کې له دوی سره خپله خواخوږي څرګنده کړه، شهیدانو ته یې د جنت
الفردوس، زخمیانو ته عاجله شفا او زیانمنو کورنیو ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کړل
نوموړي وویل: طبیعي پېښې د الله - جل جلاله- له لورې امتحان دی او اسلامي امارت په هره سخته کې د ملت ترڅنګ ولاړ دی
ښاغلي حقاني په ۳۲ زیانمنو شوو کورنیو نغدې پیسې او د چین هېواد مرسته شوې خیمې او کمپلې وویشلې او ډاډ یې څرګند
کړ، چې ټولو زیانمنو شوو کورنیو ته به د بېرنیو مرستو رسولو ترڅنګ د سرپناه جوړولو لپاره هم هڅې وکړي
نوموړي د سیمې له خلکو وغوښتل، چې د اسلامي امارت له کاري ټیمونو سره د مستحقینو په پیژندلو کې همکاري وکړي او
چاته اجازه ورنکړي، چې پخپل سر د خپل شوو کورنیو مرستې غیر مستحقو ته ورکړي او یا یې حیف و میل کړي

## وزیر امور مهاجرین با آمر مهاجرین ولایت کاپیسا دیدار کرد

ویب سایت وزارت



**الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین وعودت کننده با مولوی حمد الله حقانی آمر امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت کاپیسا در دفتر کارش دیدار کرد**

**آمر مهاجرین ولایت کاپیسا از فعالیت و کارکرد آن اداره، خسارات مالی و جانی ناشی از حوادث طبیعی را در این اواخر که در آن ولایت بوقوع پیوسته بود با محترم وزیر مهاجرین شریک ساخت.**

**وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان از همکاری این وزارت و توظیف هیات تخنیکی جهت بررسی خسارات و سروی متضررین به آمر مهاجرین کاپیسا وعده نمود.**

## برای مجروحین ناشی از حوادث طبیعی اخیر درکمپ عمری تورخم ننگرهارکمک نقدی توزیع شد

آژانس اطلاعاتی باختر



**هئیتی به ریاست مولوی سعید احمد بنوری معاوی والی ننگرهار خسارات ناشی از حوادث طبیعی اخیر درکمپ عمری تورخم ولایت ننگرهار را بررسی کردند وبرای زخمیان آن کمک نقدی توزیع شد.**
**به اساس گزارش ریاست مهاجرین ننگرهار هیئتی متشکل از معاون والی ننگرهار، رییس مهاجرین و نماینده های ادارات دولتی خسارات ناشی از حوادث طبیعی اخیر در کمپ عمری تورخم را بررسی و برای ۲۷ تن از زخمیان کمک نقدی نمودند.**
**مسوولان کمپ متذکره گفتند که به دلیل بارندگی و طوفان اخیر، ۵۵۰ باب خیمه، ده ها تخته سولر، دیوار های احاطوی وجاده ها در کمپ عمری تخریب شده است که ضرورت به کمک صدها باب خیمه، اعمار دیوار احاطوی و تانکر های آب میباشد.**
**مولوی نور الدین ترابی سرپرست اداره مبارزه با حوادث طبیعی هدف از سفرش به تورخم را کمک به متضررین و بررسی خسارات و اقدامات لازم در بازسازی دوباره آن خواند.**
**در ادامه هئیت از ساحات تخریب شده بازدید نموده و اطمینان دادند که مشکلات و پیشنهادات خود را برای بازسازی اساسی کمپ با مسئولین مرکز در میان خواهند گذاشت.**

## خسارات ناشی از حوادث طبیعی اخیر در کمپ عمری تورخم ولایت ننگرهار مشخص و برای زخمیان آن کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**به اساس گزارش ریاست مهاجرین ولایت ننگرهار هیاتی متشکل از معاون والی ولایت ننگرهار، رییس مهاجرین و نماینده های ادارات دولتی خسارات ناشی از حوادث طبیعی اخیر در کمپ عمری تورخم را بررسی و برای ۲۷ تن از زخمیان کمک نقدی را بتاریخ ۲۷ سرطان توزیع نمودند.**

**مسوولان کمپ متذکره گفتند: به دلیل بارندگی و طوفان اخیر، ۵۵۰ باب خیمه، ده ها تخته سولر، دیوار های احاطوی وجاده ها در کمپ عمری تخریب شده است که ضرورت به کمک صدها باب خیمه، اعمار دیوار احاطوی و تانکر های آب میباشد.**

**مولوی سعید احمد بنوری معاون والی ننگرهار صحبت نموده خواهان همکاری اداره مبارزه با حوادث طبیعی شد.**

**مولوی نور الدین ترابی سرپرست اداره مبارزه با حوادث طبیعی هدف از سفرش به تورخم را کمک به متضررین و بررسی خسارات و اقدامات لازم در بازسازی دوباره آن خواند.**

**در ادامه مسؤولان از مناطق تخریب شده بازدید نموده و اطمینان دادند که مشکلات و پیشنهادات خود را برای بازسازی اساسی کمپ با مسئولین مرکز در میان خواهند گذاشت.**

## تر دوو زرو زیات مهاجرین له پاکستان او ایران څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**دوه زره او و ۲۴۳ تنه افغان مهاجرین د چنګاښ پر  اوه ویشتمه د نیمروز ولایت د وربښمو، د هرات ولایت اسلام کلا او د ننګرهار ولایت د تورخم له لارې څخه پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول.**
**د پورته ولایتونو له سرحدي آمریتونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې له پاکستان هېواد څخه ۸کورنۍ چې ۳۱ تنه کېږي**

د تورخم فرضي کربښې له لارې او په ايران کې مېشت يو زر او ۱۹تنه د هرات د اسلام کلا او يو زر او ۱۹۳ تنه د نيمروز د ورېښمو له لارې څخه خپل هېواد ته راستانه شول.
راستانه شوي له سرحدي ادارو سره تر نوملیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د مهاجرت او خوړو نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شول او دغه راز له هرې کورنۍ سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم مرسته هم وشوه.

## معاون اتشه مهاجرين مقيم اسلام آباد با شماری از نماینده های مهاجرين مقيم پاکستان ديدن کرد

ویب سایت وزارت

ارسلاح حقيار معاون اتشه امور مهاجرين افغان مقيم اسلام آباد پاکستان به تاريخ 22 سرطان با شماری از سران و بزرگان مهاجر افغان مقيم ايالت پنجاب ديدار نمود ه خواست ها و مشکلات انها را استماع رهنمايی های لازم و قانونی را ارايه نمود.

شيخ عبدالمالک به نماينده گی از آنان صحبت نموده در مورد مشکل صحی دوتن اطفال مهاجر که به بيماری صعب العلاج مصاب می باشند معلومات داده و از معاون اتشه خواست تا در قسمت معالجه اطفال با مراجع ذيربط بين المللی صحبت نموده تا زمينه تداوی تامين گردد.

معاون اتشه مهاجرين پيرامون چگونگی ميکانيزيم اعزام بيماران به خارج جهت معالجه تداوی معلومات داده گفت:که موضوع را با مسسولين اداره حلال احمر و کميشنری عال سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان شريک تا زمينه تداوی آنان فراهم گردد.

در اخير آنان از سعی وتلاش مسوولين اتشه مهاجرين ابراز قدر دانی نموده خواهان رسيدگی به مشکلات شان گرديد.

## غزني کې لسګونو بې ځایه شویو او راستنو شویو ته د پوهاوي پروګرام جوړ شو

د وزارت ویب سایت




د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د بشري مرستو د همغږۍ موسسې په همکارۍ د چنګاښ پر ځلیروشتمه ۷۰ بې ځایه شویو او راستنو شویو ته د مدني اسنادو کټو په اړه د پوهاوي پروګرام جوړ شو.

دغه پروګرام د غزني ولایت په مرکز کې د ابو ریحان البیروني د مهاجرینو په استوګنځي کې جوړ شو او ګډونوالو ته د حقوقي مسایلو او د تذکرې او نورو مدني اسنادو د ترلاسه کولو په اړه لازم معلومات وړاندې شول.

## ده ها خانواده در ولایت بلخ کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**برای ۸۷ خانواده نیازمند و برگشت کننده در ولایت بلخ مساعدت نقدی بتاریخ ۲۷ سرطان توزیع شد.**

**کمک یادشده در کتگوری های مختلف مبلغ ۲۴ هزار و ۲۴۰ افغانی، ۴۸ هزار و ۷۴۰ ، ۱۷ هزار و ۷۵۰ و ۲۱ هزار و ۵۰۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که هرخانواده آن را بعد از شناسایی توسط ریاست مهاجرین آن ولایت دریافت نمودند.**

## برېتانوي کښتۍ د لومړي ځل لپاره له سمندر څخه ژغورل شوي کډوال د فرانسې یو بندر کې ښکته کړي

مهاجرنیوز




**د برېتانيا د ساحلي ځواکونو يوې بېړۍ د چهارشنبې په ورځ د انګلیس کانال په اوبو کې ۱۳ کډوال وژغورل او کالې بندر ته يې انتقال کړل. دا لومړۍ ځل دی چې د برېتانوي ځواکونو له خوا ژغورل شوي کډوال فرانسې ته راوستل کېږي. په ورته مهال يوه فرانسوۍ چارواکې وايي چې دغې برېتانوۍ کښتۍ د «عملياتي» دلايلو له کبله فرانسه کې لنګر اچولی دی .**

**د برېتانيا يوې بېړۍ د چهارشنبې په ورځ د فرانسې په ساحلي اوبو کې ۱۳ مهاجر وژغورل او ژغورل شوي کسان يې د فرانسې يو بندر کې ښکته کړل. د ساحلي ځواکونو دوو کښتيو وروسته له هغه له دوور بندر څخه د فرانسې د ساحلي اوبو پر لور حرکت وکړ چې د فرانسې ګري نې د ژغورنې او نظارت سيمه ايز عملياتي مرکز ورڅخه د مرستې غوښتنه وکړه.**

**د برېتانيا د ساحلي ځواکونو د قومندانۍ وياند <u>انډيپينډېنټ</u> ورځپاڼې ته په دې اړه ويلي دي: «موږ د جولای په ۱۷ د غرمې په ۲ بجو او ۴۰ دقيقو خبر ترلاسه کړ چې يوه کوچنۍ بېړۍ کالې ته څېرمه د فرانسې په اوبو کې له ستونزې سره مخ شوې ده«.**

**په دغه ورځ د فرانسې ژغورونکې کښتۍ کورموران له سمندر څخه ۵۹ تنه او د برېتانيا د ساحلي ځواکونو بېړۍ بيا ۱۳ تنه نور وژغورل.**

**دا لومړی ځل نه دی چې يوه برېتانوۍ کښتۍ د فرانسې په اوبو کې د کډوالو د ژغورلو عمليات ترسره کوي. خو د فرانسې د مانش او شمالي سمندر پخوانۍ وياندې ويرونيک مانين چې دغو عملياتو کې يې ګډون درلود وايي چې دا لومړی ځل دی چې د «عملياتي» دلايلو له کبله د فرانسې د ژغورنې او نظارت سيمه ايز عملياتي مرکز له يوې برېتانوۍ کښتۍ څخه غوښتنه کوي چې فرانسوي بندر کې لنګر واچوي.**

دا هم ولولئ

<u>د ابې نورماندي له کښتۍ څخه راپور: د فرانسي او برېتانيا ترمنځ د کډوالو د بېړيو ژغورنه</u>

تر ټولو نږدې بندر

آغلې مانين وايي: «دا یوه قاعده ده: ژغورل شوي کسان تر ټولو نږدې او خوندي بندر ته انتقالېږي، که فرانسوی وي که برېتانوی.» هغه زياتوي چې له دې وړاندې د دواړو هېوادونو د کښتيو د شتون په صورت کې کډوال هغه بېړۍ ته انتقالېدل چې زيات ځای يې درلود.

خو د چهارشنبې په ورځ کورموران کې يو مهاجر بې هوښه و او د ژغورنې لپاره يې يوه روغتيايي ډله د الوتکې له لارې کښتۍ ته واستول شوه. په همدې دليل او همدارنګه سمندر کې د نورو کسانو د ژغورلو لپاره د ژغورنې او نظارت سيمه ايز عملياتي مرکز له برېتانوي ځواکونو څخه غوښتنه وکړه چې کډوال کالې بندر کې ښکته کړي.

ويرونيک مانين زياتوي چې دا په دې مانا نه ده چې د برېتانيا او فرانسي ترمنځ د همکاريو طريقه بدله شوې ده. د نوموړې په وينا، په سمندر کې د ژغورنې قواعد عملي کېږي او په دې اړه يوازې عملياتي مرکز پرېکړه کولی شي.

د برېتانيا د کورنيو چارو وزارت هم د کډوالو ژغورلو کې هر ډول بدلون ردوي. خو ځينو رسنيو د يو شمېر برېتانوي چارواکو له قوله ليکلي دي چې دغه عمليات ښيي چې «برېتانيا او فرانسه کولی شي د همکاريو په پراخولو سره د کوچنيو کښتيو بحران مهار کړي.

دا هم ولولئ

<u>انګليس کانال: د کالې په ساحلي اوبو کې يو بل کډوال مړ شوی</u>

تر ۱۵ زره زيات کډوال برېتانيا ته اوښتي

په دغه ورځ انګليس کانال کې <u>يو کډوال خيل ژوند له لاسه ورکړ</u> .نوموړي چې بې هوښه شوی و کورمورون کښتۍ ته تر انتقال وروسته د ژغورونکو د هڅو سربېره ساه ورکړه.

ويرونيک مانين په دې اړه وايي: «دا يوه نوې پديده ده: د هغو کسانو مړينه چې له سمندره ژغورل شوي دي، دوی نه ډوبېږي بلکې په ژغورونکې کښتۍ کې ساه ورکوي ».نوموړې زياتوي چې په دې وروستيو کې کښتيو کې د سپارو کډوالو شمېر هم زيات شوی دی. بله مسله هم د تودوخې درجه ده چې ښايي د روغتيايي ستونزو سبب وګرځي.

د برېتانيا <u>د کورنيو چارو وزارت د رسمي شمېرو</u> له مخې، د روان کال له پيل څخه د جولای تر ۱۷مې پورې ۱۵۰۷۶ کډوالو د انګليس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته رسولي دي. د برېتانيا ساحلي ځواکونو د جولای په ۱۸مه انګليس کانال کې ۳۱۷ کسان وژغورل. له دې څخه دوه ورځې مخکې ۴۲۷ مهاجر او د جولای په ۱۴مه بيا ۴۱ تنه نور له سمندر څخه ژغورل شوي وو.

که څه هم د برېتانيا نوی لومړي وزير کيېر ستارمر د روندا ټرون لغوه کړی، خو ژمنه يې کړې چې له قاچاق وړونکو سره د مبارزې لپاره له هغو امکاناتو کار واخلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ترې کار اخيستل کېږي. نوموړي ويلي دي <u>له منظمې کډوالۍ د مخنيوي لپاره به له اروپا او په ځانګړې توګه فرانسې سره همکاري زياته او لا پياوړې کړي</u>



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## انګلیس کانال: د کالې په ساحلي اوبو کې یو بل کډوال مړ شوی

مهاجرنیوز



**فرانسوي چارواکي وايي چې د پا دو کالې په ساحلي اوبو کې د پنجشنبې په شپه یو بل کډوال مړ شوی دی. دا په تېره یوه اونۍ کې د برېتانیا او فرانسې ترمنځ اوبو کې د کډوالو د مړینې درېیمه پېښه ده. په دغو پېښو کې ۶ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.**

**د فرانسې د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ نن جمعه، د جولای ۱۹، د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل چې د پنجشنبې په شپه، د جولای په ۱۸مه، د پا دو کالې په ساحلي اوبو کې یو بل کډوال مړ شوی دی.**

**په اعلامیه کې راغلي دي، وروسته له هغه چې د ګري نې د ژغورنې او نظارت سیمه ایز عملیاتي مرکز پا دو کالې کې د کډوالو د بېړۍ په اړه خبر ترلاسه کړ، د کورموران په نوم ژغورونکې کښتۍ یې سیمې ته واستوله. که څه هم کډوالو په لومړي سر کې د برېتانیا پر لور خپل سفر ته ادامه ورکړه، خو د شپې په شاوخوا ۲ بجو یې له کورموران څخه د مرستې غوښتنه وکړه.**

**د سرچینې په وینا، د بېړۍ پنځه سپرلي اوبو ته لوېدلي وو چې د کورموران له خوا وژغورل شول. همدارنګه تر ۸۰ زیات کسان د مهاجرو له بېړۍ څخه ژغورونکې کښتۍ ته انتقال شول چې په ډله کې یو تن بې هوښه شوی و. دغه مهاجر د روغتیايي ژغورونکو د هڅو سربېره ساه ورکړه.**

**د پولیسو یوې سرچینې ویلي دي چې مړ شوی کس د سوډان دی. د روغتیايي ژغورونکو د معلوماتو له مخې، ژغورل شوي کسان د ارتیریا، سوډا او اتوپیا وګړي دي .**

**دا وروسته له هغه چې د چهارشنبې په ورځ، د جولای په ۱۸مه، هم یو کډوال د ګربولین په ساحلي اوبو کې د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ .له دې پېښې څخه ۷۱ تنه نور ژغورل شوي وو. همدارنګه یوه اونۍ مخکې څلور کډوال چې غوښتل**

یی په کښتۍ کې ځانونه برېتانوي سواحلو ته ورسوي د بولونی سور مېږ په اوبو کې ډوب شول .په دغه کښتۍ کې ۶۰ کسان سپاره ول. داسي انګېرل کېږي چې مړه شوي کډوال د سومالیا، یوتوپیا او یا اریتریا وګړي دي.

یوه ویشت کسان مړه شوي

سږ کال تر دې مهاله ۲۱ کډوالو په انګلیس کانال کې د کښتیو د ډوبېدو له امله وژل شوي دي. د امنیتي تدابیرو او ګواښونو سرېېره لا هم ګڼ شمېر مهاجر هڅه کوي چې پر دغه سمندر لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل څخه د جولای تر ۱۷مې پورې ۱۵۰۷۶ کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته رسولي دي. د برېتانیا ساحلي څواکونو د جولای په ۱۸مه انګلیس کانال کې ۳۱۷ کسان وژغورل. له دې څخه دوه ورځې مخکې ۴۲۷ مهاجر او د جولای په ۱۴مه بیا ۴۱ تنه نور له سمندر څخه ژغورل شوي وو.

که څه هم د برېتانیا نوی حکومت د روندا تړون لغوه کړی، خو ژمنه یې کړې چې له قاچاق وړونکو سره د مبارزې لپاره له هغو امکاناتو کار واخلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ترې کار اخیستل کېږي.

لومړي وزیر کیېر ستارمر د پنجشنبې په روځ لوموند ورځپانه کې د یو تریبیون په خپرولو سره وویل غواړي د دفاع او خوندیتوب په برخو کې له فرانسه څخه خپلې اړیکې ژورې کړي. هغه چې د جولای په ۱۸مه یې د اروپا د سیاسي اجماع کوربه توب کاوه ویلي دي فرانسه او برېتانیا باید په ګډه هغه «جرمي امپراتوري» له منځه یوسي چې د خلکو په قاچاق کې لاس لري: «زما په آند، دا مشکل نور چلنج نه بلکې یو بحران دی«.

## یونان: تېر یو کال کې د کډوالو ماشومانو شمېر څلور چنده زیات شوی دی

مهاجرنیوز



سېف دې چلډرن سازمان وايي چې د ۲۰۲۴ له جنورۍ څخه تر جولای میاشتې پورې له ۶۴۰۰ څخه زیات کډوال یونان ته رسېدلي دي. دغه شمېرې د تېر کال د همدې مودې په پرتله څلور چنده ډېروالی ښيي. دغه سازمان یونان کې د ماشومانو د ژوند پر وضعیت نیوکه کوي او وايي چې ورته «د ماشومانو په سترګو نه کتل کېږي.«

د ماشومانو د ساتنې سازمان یا سېف دې چلډرن د جولای په ۱۷مه د یوې اعلامیې په خپرولو سره لیکلي چې د دغو ماشومانو له ډلې ۵۵۸۰ تنه یې د اژې سمندر او ۸۳۰ نور یې له ځکمنۍ لارې یونان ته اوښتي دي. په هرو څلورو ماشومانو کې یو یې له کورنۍ او یا قانوني سرپرست پرته یونان ته رسېدلی دی.

په اعلامیه کې راغلي دي چې دغه ماشومان یونان ته له رسېدو سره سم د ژوند له سختو شرایطو سره مخامخ کېږي. د اعلامیې له مخې، هغه تنکي ځوانان چې په توقیف ځایونو کې ساتل کېږي ځوک ورته «کالي، بوټان او یا موبایل نه ورکوي». د سېف دې چلډرن مشر وېلي برګونيې زیاته کړې ده چې یونان کې دغو کډوالو ته «د ماشومانو په سترګه نه کتل کېږي». هغه له یوناني چارواکو څخه غوښتنه کړې چې د یادو تنکي ځوانانو د ژوند شرایطو ته پاملرنه وکړي.

نوموړي دا هم ویلي دي چې اروپا ته د رسېدو لپاره «خوندي لارو» ته اړتیا شته ترڅو مدیترانه نور «د ماشومانو هدیره» نه وي.

دا هم ولولئ

<u>ملګري ملتونه: د کډوالۍ پر لار له نیمایي ډېر کډوال په سمندر کې مړه شوي</u>

یونان دې «د کډوالو په شا تمبول ودروي«

بل پلو د یونان د کډوالو شورا مشر لفتریس پاپاګیاناکیس ویلي دي چې ماشومان له سختو سفرونو وروسته ځانونه یونان ته رسوي. د هغه په وینا، کله چې دوی یونان ته رسېږي، هلته د څو اونیو لپاره په یوه مشخصه ځای کې ساتل کېږي او ترې د وتلو اجازه نه لري. هغوی همداراز روغتیايي امکاناتو څخه بې برخي دي.

د اروپا شورا تېره اونۍ د یوناني چارواکو له خوا د کډوالو د بندي کولو په اړه یو انتقادي راپور خپور کړ او له اتن څخه يې غوښتنه وکړه چې «د کډوالو په شا تمبول ودروي». خو د یونان حکومت په ځواب کې وویل چې په بند کې د مهاجرو د ساتلو شرایط «له نړیوالو قواعدو سره سمون لري.«

د بي بي سي د راپور له مخې، د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۳ ترمنځ ۴۳ کډوالو وروسته له هغه سمندر کې خپل ژوند له لاسه ورکړی چې د یوناني ځواکونو له خوا په شا تمبول شوي وو. د دغو کډوالو له ډلې نهه تنه يې سمندر ته غورځول شوي وو. د نړیوالو سازمانونو او د رسنیو د راپورونو سره سره یونان تل له خپلې خاورې څخه د کډوالو په شا تمبول رد کړي دي

## تاکید روسای جمهور فرانسه و بریتانیا بر تقویت همکاری در زمینه مهاجرت

مهاجرنیوز



کی یر ستارمر، نخست وزیر بریتانیا و امانوئل ماکرون، رئیس جمهور فرانسه در گفتگوهای دوجانبه ای که در روز پنجشنبه داشتند، وعده «تقویت همکاری در زمینه مبارزه با مهاجرت غیرقانونی و در بخش دفاعی» را دادند .

این دو رهبر در حاشیه نشست جامعه سیاسی اروپایی (EPC) باهم دیدار کردند که در نزدیکی اکسفورد در انگلستان برگزار شد. پس از پیروزی حزب کارگر در انتخابات بریتانیا، لندن سعی دارد روابط با اتحادیه اروپا را دوباره تقویت کند.

در همین زمینه
کانال مانش: غرق شدن یک مهاجر و نجات ۷۱ تن دیگر

ماکرون و ستارمر در یک بیانیه مشترک اعلام کردند: «با نگاه به آینده، فرانسه و بریتانیا همکاری شان را در بخش های مختلف تقویت می کنند».این دو رهبر در مورد مهاجرانی گفتگو کردند که سعی می کنند خود را از کانال مانش در فرانسه به بریتانیا برسانند. وضعیتی که برای بریتانیا به یک مشکل سیاسی حساس تبدیل شده است.

هر دو رهبر«به (بازماندگان) قربانیان سوانح تراژیک در کانال مانش که دیروز و هفته گذشته رخ داده است، تسلیت گفتند». آن ها به مرگ مهاجرانی اشاره می کردند که سعی داشتند از این مسیر به بریتانیا راه یابند.

رهبران بریتانیا و فرانسه متعهد شدند «که همکاری شان را در مبارزه با مهاجرت غیرقانونی و برعلیه باندهای مجرم که مسئول مرگ مهاجران هستند، تقویت کنند.«

ماکرون به گزارشگران گفت: «ما (فرانسه و بریتانیا) نمی توانیم وضعیت در کانال مانش را به تنهایی تغییر دهیم. بلکه برای مبارزه کارآمدتر برعلیه قاچاقبران به همکاری کشورهای مختلف و از جمله کشورهای اروپایی نیاز داریم که مقصد اولیه مهاجران هستند.«

ستارمر قبلا گفته بود که برای جلوگیری از استفاده مهاجران از مسیر خطرناک کانال مانش، یک راه حل معجزه آسا وجود ندارد». از زمانی که او دو هفته پیش در انتخابات پیروز شد، این نخستین دیدار رهبران فرانسه وبریتانیا است. این دو در ادامه گفتند که در مورد »تقویت مجدد همکاری دفاعی» و «حمایت جدی از اوکرایین» توافق نظر دارند.

در همین زمینه
چهار مهاجر در تلاش رفتن به بریتانیا، در کانال مانش غرق شدند

رئیس جمهور فرانسه در ادامه بر اهمیت تنظیم مجدد روابط فرانسه با بریتانیا و تقویت روابط بریتانیا با اتحادیه اروپا تاکید کرد. اما در عین زمان او بریتانیایی ها خواست که به تصمیم هایی که به برگزیت (خروج بریتانیا از اتحادیه اروپا) منجر شد، احترام بگذارند.

ستارمر و ماکرون گفتند که در سال ۲۰۲۵ یک نشست دوجانبه برگزار خواهند کرد. آخرین دیدار رهبران فرانسه و بریتانیا در سال ۲۰۲۳ و در زمان حکومت ریشی سوناک، نخست وزیر وقت بریتانیا برگزار شده بود.